دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مســـــــتقل انتخابات

دافغانستان اسلامــي جمهوری دولت
د ټـــاکنــوخپلـــواک کمیسیـــون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** 41- ۱۳۹۳

**موضوع:** د رأيي ورکوني د ۲۵۰۴ محلونو د رأيو د تفتيش پايلي؛

**ځانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د وږي۷مه، (د ۲۰۱۴ کال د اګست ۲۹ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلي ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلي ليلا احراري او آغلي شريفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مي مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ مي مادې د حکمونو او د خپلو ۳۳ او ۳۷ شمېره پرېکړه ليکونو پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأيي ورکوني د ۲۵۰۴ محلونو رأيو د تفتيش د پايلو په اړه ، په درېيو کټګوريو کي چي لړليک ( فهرست) او ځانګړني يي له دغه پرېکړه ليک سره ضميمه دي، په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

۱ . د رأيي ورکوني ۱۸۰۷ محلونه چي د تفتيش په پايله کې هيڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه ليدل شوه،نورمال دي، کومه ستونزه نه لري او پروسس دې شي؛
۲. د تفتيش په پايله کي د رأيي ورکوني د ۶۲۸ محلونو بیاشمېرنه تأييد ده، په دغه بهير کي دې شامل شي:

1. د رأيي ورکوني ۳۳ محلونه دې په صندوقونو کي د پايلو فورمو د کاپي نشتوالي او يا هم د لاسوهني د شواهدو د شتون له امله.
2. د رأيي ورکوني ۲۴۲ محلونه په پايلو فورمو کي له ۶۰۰ څخه د زياتو رأيو د ثبت له امله.
3. د رأيي ورکوني ۶ محلونه د پايلو د اصلي فورمو او صندوق دننه د پايلو فورمو د کاپي تر منځ د توپير له امله .
4. د رأيي ورکوني ۲۶ محلونه د رأيي ورکوونکيو ليست د سپين والي او يا په ليسټ کي له ۱۰ څخه د زياتو پرله پسي شمېرو د ثبت له امله بياوشمېرل شي.
5. د رأيي ورکوني ۲ محلونه له دې امله چي صندوقونه يي دومره مات وو او يا يي مهر او لاکونه دومره سست وو چي لاس په کي دننه کيدای شوای.
6. د رأيي ورکوني ۲۵۴ محلونه د پايلو په فورمو او رأيي ورکوونکيو د ليسټ تر منځ د توپير، د دوو يا له دوو څخه د زياتو مهر او لاکونه د ماتيدو او تخريب او يا د درغلی ښکاره نښو د ليدو له امله ؛ او د دې له پاره چي دوه او يا دوو څخه د زياتو مهر او لاکونو شمېرې د رأيي ورکوني صندوق دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمي له شمېرو سره ورته والي او مطابقت نه درلود.

7. د رأيي ورکونو ۶۵ محلونه دي امله چي کم له کمه ۲۰ رأيپاڼي يې ورته نښه شوې او يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

۳ . د رأيي ورکونې د ۶۴ محلونو د ټولو رأيو ابطال د لاندې دلايلو پر بنسټ په ۶ برخو کې تأييد شو:

1. د رأيي ورکونې دوه محلونه له دې امله چې د صندوق ډول يا بڼه يې هغسې نه وه چې د کميسيون له خوا د ولسمشريزو ټاکنو د دويم دور له پاره وېشل شوي وو.

2. د رأيي ورکونې ۴۹ محلونه له دې امله چې په صندوق کې هيڅ رأيي پاڼې نه وې موجودې، يا يې رأيي پاڼې مهر شوې نه وې، يا ټولې رأيي پاڼې د طرزالعمل مطابق نه وې نښه شوې، يا ټولې هغه په ورته بڼه نښه شوې وې او يا هم له کندې څخه نه وې بېلې شوې.

3. د رأيي ورکونې ۱۲ محلونه له دې امله چې د رأيي ورکونې محل په ژورنال کې يې د زور زياتي، جګړې او د کميسيون د کارکوونکيو له کنټرول څخه د ټاکنيزو توکيو له لاسه وتلو په اړه ريپورټ ورکړل شوی وو.

4. د رأيي ورکونې يو محل له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو ليست يې ورک يا سپين وو او يا هم ۳۳ سلنه رأيي پاڼې مهر شوې نه وې، يا د طرزالعمل مطابق نه وې نښه شوې، يا په څرګنده توګه ورته نښه شوې وې او يا هم له کندې نه نه وې بېلې شوې.

5. د رأيي ورکونې دوه محلونه له دې امله چې صندوقونه يې دومره مات و تخريب شوي چې لاس په کې ننوځي او يا هم د پايلو په فورمو يا د رأيي پاڼو په بنډلونو کې يې د ښکاره لاسوهنې شواهد موجود دي.

6. د رأيي ورکونې ۳ محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شمېرو په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمو له شمېرو سره سمون نه درلود او د پايلو په فورمو او د رأيي پاڼو په بنډولو کې يې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود دي.

| د پرېکړې موافق | د غړيو نومونه | د پرېکړې مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلې شريفه زرمتی وردک | |